# خُلفاءِ راشِدین
# او
# اَحناف

تألیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین اللہ پشاوری
حفظہ اللہ تعالی

مکتبہ محمدیہ
بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور
Mob: 0301-8828402

# خلفاء راشدین ۔ رضی اللہ عنہم

او

# احناف

تالیف

ابو محمد امین اللہ البشاوری حفظہ اللہ

ناشر

**مکتبہ محمدیہ**

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

# جمله حقوق محفوظ دی



دکتاب نوم ——— خلفاء راشدینؓ او احناف

مؤلف ——— شیخ ابو محمد امین الله بشاوری

ترتیب ——— ابو سلمان حضرت محمد غفر له ـ

سنه ——— ۱۰/ رمضان المبارك : ۱٤۲٦ هـ

تعداد ——— زر نسخے

تصحیح ——— ابو سلمان حضرت محمد غفر له

ناشر ——— مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منگل مارکیټ پیښور

و جامعه تعلیم القرآن والسنه

منور شاه کالونی گنج پیښور



## مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منگل مارکیټ پیښور

# سریزه

محترمو لوستونکو !

دا رسالـه دهغـه مقلدینو په جواب کښې لیکلے کیږی چه هـغوئ مختلفې رسالے، پملټونه او پوسټرے خوروی او په عوام الناس کښې دا تاثر قائموی چه ګنے اهل حدیث دخلفاء راشدینو رضـی الـلـه عـنـهـم خـصـوصـا دعمر فـاروق رضی الـلـه عنـه مـخـالـفـت کوی ۔ او په خپلو خطبو، تقریرونو او وعظونو کښې پـه حـجـره او جومات کښې دا ډنډوره کوی ۔ بیا مقلدین دخپل دے مـکـر او فـریـب سرته رسولو دپاره د خلفاء راشدینوؓ فضائل آورول شروع کړی اود قرآن او حدیث صحیح متبعینو باندے بهتانونه او تورونه لګول شروع کړی ۔

اودا وائـی چـه که دا هل حدیثو مسائل حق وے او ضعیف اومـنـسـوخ نـه وے، نـو دوئ بـه ولے دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم مخالفت کولے ؟

بیا وائی :

آیا خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دا احادیث نه پیژندل ؟

آیـا دا احادیث خلفاء راشدینو رضی الله عنهم ته معلوم نه

وو؟

آیا خلفاء رشدینو رضی الله عنهم ددے احادیثو خلاف کولو؟

بعضے عوام الناس هم ددوئ په دهوکه کښے راشی اود حق اوهدایت طلب کولو نه بغیر ددے نه محروم شی ۔ لیکن بعضے نور دهم دوئ په خبرو باندے ددے رشد اوهدایت دعوت نه خبر شی او دیته لبیك اووائی ۔

اصل خبره داده چه حنفی مقلدین نه دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم سره څه کار شته اونه ددوئ دتابعدارئ غم وری دی، بلکه دوئ دخپل خود ساخته، ضعیف او خطاء مسائلو ثابتولو دپاره دیو مجتهد قول ته یے ځایه او یے محله ترجیح ورکوی، اوددے ناشائسته عمل دپاره دخلفاء راشدینو اوعام صحابه کرامو رضی الله عنهم مبارك نومونه استعمالوی ۔

چاچه فقه حنفی لوستلے وی هغه به په دے حقیقت باندے خبر وی چه دوئ صحابی خطاء کوی خو خپل مذهب پورے باسی، بلکه صحیح حدیث ددے دپاره تاؤ راتاؤ کړی چه فقهی مذهب خراب نشی ۔ اودا غلو مقلدین حضراتو دشیعه ګانو نه زده کړے ده، هغوئ هم دعلی رضی الله عنه په محبت کښے دومره غلو اوزیاتے اوکړو چه دالوهیت مرتبے ته ئے

اورسولو ۔ مقلدینو هم دامام ابو حنیفهؒ په محبت کښې دومره غلو اوزیاتے اوکړو چه هغه ئے دنبوت څه چه دالوهیت مرتبے ته اورسولو ۔

**الغرض** : کـه د دوئ دا بهتـانونه او تورونه، تلبیسات او غـلـط پـروپیـګـنـډے نـه وے نـو مـونـږ به هم دا ترِخ حقیقت نه ښکاره کولے ۔

لیـکـن مـونـږ هـم دا حق لرو چه ددوئ ددے غلطے ډنډورے الـزامی جواب ورکړو، اوددوئ اصل حقیقت دعوام الناس مخے راښکاره کړو ۔ فقط

حرره

**ابو محمد امین الله البشاوری**

ذی القعده : ١٤٢٥/٢٩ هـ۔

جامعه تعلیم القرآن والسنه

بیرون ګنج ګیټ

منور شاه کالونی پیښور

* * * * * *

## بسم الله الرحمن الرحيم

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادی له، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

### اما بعد:

دا رساله د هغه حنفی مقلدینو په رد کښې لیکلې کیږی چه هغوئ دا وائی چه اهل الحدیث والسنه د خلفاء راشدینو ؓ مخالفت کوی.

حال دا چه مونږ وایو چه زمونږ فتاوے هیڅکله د خلفاء راشدینو ؓ خلاف نه دی، والحمد لله.

بلکه مونږ وایو چه د فقه حنفی اکثر مسائل دخلفاء راشدینو - رضی الله تعالیٰ عنهم - خلاف دی، او احادیث نبویه ﷺ نه خو خامخا خلاف دی. فقه حنفی چه د احادیثو نه خلاف ده نو په دے باره کښې خو ډیر کتابونه لیکلے شوی دی، لیکن مخالفت د حنفی فقې د خلفاء راشدینو - رضی الله تعالیٰ عنهم - نه په دے باره کښې څه کتاب په نظر رانغے. دے

وجے نـه زه د الله په فضل سره دنمونے په طور څو مثالونه ذکر کووم، دے دپاره چه ګران لوستونکی خپله اندازه اوکړی چه دخلفاء راشدینو - رضی الله تعالیٰ عنهم - مخالفت څوك کوی ؟ احناف که اهل حدیث ؟

دا فیصله به په لوستونکو باندے پریدو !

اوس مثالونه شروع کوو :

* * * * * *

# خلفاء راشدينو رض سره داحنافو د اختلاف مثالونه :

## ۱ - اول مثال :

خليفه راشد عمر فاروق - رضی الله تعالیٰ عنه - ابن عمر او تمام صحابه كرام رضی الله عنهم ددے خبرے قائل دی چه په ايمان كښے زياتے كمے دواړه راځی، لكه په روايت كښے دی :

عن ابی ذر قال : كان عمر يأخذ بيد الرجل والرجلين من اصحابه، فيقول : قم بنا نزداد ايمانا، فيذكرون الله عز وجل.

(كنز العمال : ۱/۲۰۷) حياة الصحابة (۳/۱٤).

ددے خلاف د احنافو معتبر كتابونو : شرح فقه اكبر ص (۱۰۵)، عمدة القاری، تنظيم الاشتات (۱/۲۸) عينی (۱/۱۰۷) كښے دی چه په ايمان كښے نه زيادت راځی اونه كمے .اودا دقرآن نه هم خلاف عقيده ده ځكه قرآن كښے دی ﴿ زادتهم ايمانا ﴾ -

۲ - دويم **مثال** : خليفه راشد عمر فاروق ، ابن عمر اوابن مسعود رضی الله تعالی عنهم نه نقل دی چه مس المرأه (زنانه له لاس وروړلو) سره اودس ماتيږی-

لكه دارقطنی (١/١٤٤) مشكوة (١/٤١) كښې دی.

ددې په خلاف احناف وائي چه زنانه مسه كولو سره اودس نه ماتيږی.

لكه فتاوی عالمگيری (١/١٣) شرح وقايه (١/٧٧) خلاصة الفتاوی (١/١٥) كښې دی -

٣ - دريم **مثال:** خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه دجنب دپاره تيمم كول جائز نه دی. (بخاری: ١/٤٧، ٤٨)

ددې خلاف احناف وائي چه جنب دپاره تيمم كول جائز دی. (كنز: ١/٦) هدايه (١/٤٩) در المختار (١/١٠٩).

٤ - څلورم **مثال:** خليفه راشد عمر فاروق رضی الله تعالی عنه، ابن عمر او ابو هريره - رضی الله عنهما - فرمائی چه مس الذكر (اندام مخصوصه له لاس وروړلو) سره اودس ماتيږی.

(طحاوی: ١/ ٤٣) تنظيم الاشتات (١/١٣٢) عينی، السنن الكبری للبيهقی (١/٩١) عبد الرزاق (١/١١٤).

ددې برعكس احناف وائي چه شرمگاه له لاس وروړلو سره اودس نه ماتيږی.

(الهداية، رد مختار (١/٩٩) كنز (١/٦).

٥ - پنځم **مثال:** خليفه راشد عمر بن خطاب رضی الله

عنه فرمائی : د درندګانو او ليوانو جوټه پاکه ده.

(مشکوة : ١/٥١) موطا (١/١٤) عبد الرزاق (١/٧٧) فقه عمر بن الخطاب ص : ٥٩٨).

ددې برعکس احناف وائی : ددرندګانو اوليوانو جوټه پليته ده. (هدايه : ١/٤٥) کنز (١/٩) شرح وقايه (١/٩٢)

٦ - خليفه راشد ابو بکر صديق رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د سمندر ټول حيوانات جائز اوحلال دی. (بخاری : ٢/٨٢٥)

ددې په خلاف احناف وائی : د ماهی نه سيوا د سمندر ټول حيوانات حرام دی.

(هدايه : ٤/٤٤٢) تنظيم الاشتات (١/١٨٠).

٧ - خليفه راشد عمر فاروق - رضی الله عنه - فرمائی : دماکول اللحم حيواناتو بول پاك دی (يعنے دکومو حيواناتو غوښه چه خوړلے شی دهغوئ متيازې پاکے دی).

(مستدرك : ١/١٥٩).

ليکن ددې خلاف احناف وائی چه ددې حيواناتو متيازې نجسے دی. (هدايه : ١/ شرح وقايه (١/١٣٩)

٨ -- خليفه راشد علی رضی الله عنه به په ښپلو چپلو مسح کوله. طحاوی (١/٧٠) بيهقی (١/٢٨٧).

ددې برعکس احناف ديته جائز نه وائی. عينی (٣/٢٤).

۹ - نهم مثال: خلیفه راشد عمر رضی الله عنه به په تیمم کښې صرف په مخ او ورغوو باندې مسح کوله.

لکه بخاری (۱/٤٧) اور المحلیٰ (۲/۱٤۸) کښې دعمار بن یاسر رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی دی.

او احناف دا طریقه د تیمم نه منی.

هدایه (۱/۵۰)۔ شرح وقایه (۱/۹۷).

۱۰ - لسم مثال: خلیفه راشد عمربن خطاب رضی الله عنه به دجنازې وړلو نه پس اودس لازم ګڼړلو او کله چه به دجنازې وړلو نه واپس شو نو ضرور به ئې اودس کولو تردې چه دمسجد په تاپ کښې به ئې اودس کولو.

المحلیٰ (۱/۲۵۰).

ددې په خلاف په احنافو کښې بعضې دا هډو منی نه او ځینې ورته مستحب وائی. لازم ئې نه ګڼړی.

مرقات (۲/۹۳) اور نفع المفتی والسائل ص (۲۰۵).

۱۱ - یولسم مثال: خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل چه تهولې اوبه پاکې دی لرې وی که ډیرې ترخو پورې چه ددې اوصاف ثلاثه متغیر شوې نه وی.

اذا لم یخرجه النجاسات عن اوصافه الثلاثة سواء کان قلیلا او کثیراً - (کنز العمال رقم (۲۷٤۷۸) المحلی (۱/۱٤٦) فقه عمر رضی الله عنه ص (۵۹۵).

لیکن احناف وائی چه کله اوبه لس په لسو کښې وی او په دې کښې نجاست پریوځی نو نه پلیتیږی، اوکه لس په لسو کښې حوض نه وی نو پلیتیږی اګرکه په دې کښې یو ځاځکې متیازې پریوځی. (هدایه: ۱/۳۵) شرح وقایه (۱/۸٦).

۱۲ - دولسم مثال: خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په پټکی باندې مسح کول جائز ګڼړل اودا به ئې فرمائیل:

من لم یطهره المسح علی العمامة فلا طهره الله.

(المغنی: ۱/۳۰۱) والمحلی (۲/٦۰) فقه عمر ص: (۵۹۵).

ترجمه: چالره چه په پټکی باندې مسح کول پاك نه کړی نو الله تعالی دې هغه پاك نه کړی.

او فقه حنفی کښې احناف وائی چه په پټکی باندې مسح کول جائز نه دی، نو په دوئ باندې د عمر فاروق رضی الله عنه بنیرې لګیدلې دی. مرقاة (۲/۱٦).

۱۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ارشاد ګرامی دې چه دزنانو په لوپټه باندې هم مسح کول جائز دی او فرمائیل به ئې چه چالره په لوپټه باندې مسح کول پاك نه کړی نو الله تعالی دې هغه لره پاك نه کړی.

کنز العمال رقم (۲٦۹۹۹) وفقه عمر ص (٦۷٦).

او احناف دا نه منی.

هدایه (۱/٦۱) شرح وقایه (۱/۱۱۳).

۱٤ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په جورابو باندے مسح کوله لکه مسند احمد (١/١٤) کښے روایت دے.

ددے په خلاف احناف وائی : په اوداسه کښے په جورابو باندے مسح کول جائز نه دی.

هدایه (١/٦١)، شرح وقایه (١/١١١) کنز (١/١٢)

۱٥ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز په موزو باندے د مسح کولو موده محدوده نه ده، بلکه مسلسل ډیرو ورځو پورے په هغے مسح کول دهغوئ په نیز جائز وو.

طحاوی (١/٨٠) مجموع (١/٥٢١) کنز العمال (٢٧٥٩٧).

او احناف درے ورځو نه زیات په موزو باندے مسح کولو ته جائز نه وائی.

هدایه (١/٥٩) او رد المحتار (١/١٨٠).

۱٦ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او دباقی ټول صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین مذهب داوو چه تارك الصلاه (مونځ پریخودونکے) کافر دے.

لکه په المحلی (٢/٢٤٢) کښے دی:

لا حظ فی الاسلام لمن ترك الصلوة.

یعنے : اسلام کښے دهغه چا حصه نشته چاچه مونځ پریخودلو.

دغه شان ترمذی (٢/٩٠)، مشکوة (١/٥٧) کښے هم دی.

لیکن احناف ددے خلاف کوی او وائی چه مونځ پریخودونکے کافر نه دے.

مرقات (١١٩/٢) رد المحتار (٢٣٥/١).

١٧ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په یوه موقعه باندے دجنابت په حالت کښے په هیره باندے دجماعت مونځ اوکړو او بیا ورته یاد شو نو دوئ خپله خو مونځ راوګرځولو لیکن مقتدیانو ته ئے خبر ورنه کړو. او همدا کار خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه هم کړے وو.

(مسند عبد الرزاق (١٣٤٧/٢) معرفة السنن (٤٢١/١) ابن ابی شیبه (٦٠/١) او نصب الرایه).

ددے خلاف احناف وائی چه په مذکوره صورت کښے به امام او مقتدیان ټول مونځ راګرزوی اودا اعاده ددوئ په نیز فرض ده.

نو ګوره: احنافو دخلفاء راشدینو صریح خلاف ورزی اوکړه! (هدایه او الدر المختار (٣٩٨/١) باب الامامة).

١٨ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق، عمر بن خطاب او بقیه نورو ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم به د سَحَر مونځ وختی کولو.

لکه عبد الرزاق (٥٧٠/١) ابن ابی شیبه (٤٩/١) موطا (٦/١) کښے دی.

ددے خلاف احناف وائی چه دصبا مونځ اسفار سره (ناوخته) کول بهتر دی.

کنز (۱/۱۷) هدایه (۱/۸۲) در مختار (۱/۲٦۹).

نو دوئ د ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم خلاف اوکړو.

۱۹ - خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه فرمائی چه دمازیګر دمانځه وخت هغه وخت شروع کیږی کله چه د هر څیز سورے یو چند شی. لکه فرمائی:

(الی ان یصیر ظل کل شئ مثله) موطا (۱/٦) عبد الرزاق (۱/۵۵۱).

ددے خلاف احناف وائی چه دمازیګر دمانځه وخت هله شروع کیږی کله چه د هر شئ سورے دوچند شی.

هدایه (۱/۸۱) شرح وقایه (۱/۱٤۷) کنز (۱/۱۷) درمختار (۱/۲٤۰) وغیره.

نو دوئ دصریح روایت خلاف ورزی اوکړه.

۲۰ - خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه ارشاد ګرامی دے چه د ماسخوتن وخت د شفق احمر یعنی سُرخئ نه پس شروع کیږی اود مابنام وخت ختمیږی.

موطا: ۱/٦، عبد الرزاق ۱/۵۳٦ المجموع ۳/٤٤ المشکوة ۱/۵۷

ددے خلاف احناف وائی چه د شفق ابیض یعنی سفیدئ نه پس شروع کیږی. رد المحتار (۱/۲٤۱) هدایه.